euaa
EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

# ټول هغه څه چي باید د عمر د ارزوني په اړه پري پوه شئ



جنوري 2022

د 2022 کال د جنورۍ له 19 څخه د اروپا د پناه غوښتنې د ملاتړ دفتر (EASO) د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره (EUAA) وټاکل شوه.

د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره (EUAA) او نه هم کوم شخص چې د EUAA په استازیتوب عمل کوي د لاندې معلوماتو څخه د کارونې مسؤلیت لري.
لوګزامبورګ: د اروپايي اتحادیې د خپرونو دفتر، 2021


| | | | |
|---|---|---|---|
| پرنټ | ISBN 978-92-9485-863-4 | doi: 10.2847/1255 | BZ-06-20-110-EN-C |
| پي ډي ایف | ISBN 978-92-9485-842-9 | doi: 10.2847/443893 | BZ-06-20-110-EN-N |



© د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2022

بیا تولید ته په دې شرط اجازه ورکول کیږي چې سرچینه یې ومنل شي.

د عکسونو یا نورو موادو د هرډول کارونې یا تولید لپاره چې د EUAA کاپي حق لاندې ندي ، اجازه باید په مستقیم ډول د کاپي حق لرونکي څخه وغوښتل شي.

euaa
EUROPEAN UNION
AGENCY FOR ASYLUM

# د عمر د ارزوني په اړه ټول هغه څه چې تاسو پرې پوهېدلو ته اړتیا لرئ



جنوري 2022

# پېژندنه



هر ماشوم د **هویت حق** لري. د هویت معنی دا ده چې تاسو نه یوازې نوم لرئ، بلکې **د زیږون نېټه، ځای** او یو سند هم لرئ چې دا بیانوي.

کله چې ځوانان اروپا ته راځي، دوی ډېری وختونه **اسناد نلري** چې د دوی هویت او عمر ثابت کړي، لکه د زیږون سند یا پاسپورټ. نو په دغه وخت کې **چارواکي له دوی څخه غوښتنه کوي** چې د **عمر ارزونه وکړي** ترڅو دا پریکړه وشي چې ایا دوی ماشومان دي یا نه.

په اروپا کې، کله چې ستاسو عمر له **18 کلونو څخه کم وي** نو تاسو **ماشوم** ګڼل کیږئ.د ماشوم په توګه، تاسو د خوندیتوب د ځانګړو ډولونو حق لرئ.

دا کتابچه دا تشریح کوي چې په ډېری اروپایي هیوادونو کې د عمر ارزونه څنګه ترسره کیږي. کړنلارې ممکن یو څه بدلون ولری او پدې پورې اړه لري چې تاسو واقعاپه اروپا کې په کوم ځای کې یاست.



تاسو کولی شئ دا کتابچه **د ماشومانو لپاره د عمر ارزونې ویډیو حرکي ویډیو** سره یوځای ولولئ کوم چې **د اروپايي اتحادیې د پناه غوښتنې اداري (EUAA) لخوا جوړه شوي ده.** حرکي ویډیو په ډیری ژبو کې د EUAA Youtube channel کې شتون لري.
که تاسو یا ستاسو ملګري ګرځنده تلیفون لرئ، نو دا QR کوډ سکین کړئ او مستقیما ویډیو ته لاړ شئ

# څوک څوک دی؟

**احمد** او **سمیرا** دواړه په دې وروستیو کې له مور او پلار پرته اروپا ته رسیدلي دي. څرنګه چې چارواکي د دوی د عمر په اړه ډاډه نه وو، له دواړو څخه وغوښتل شول چې د عمر ارزونه وکړي. دوی اوس مهال د خپل عمر ارزونې ته په تمه دي.



سمیرا



احمد

ډاکټر سام یو رادیولوژیست دی چې د ډاکټر مین سره نږدې کار کوي. هغه د هډوکو عکسونه اخلي چې د ایکسرې په نوم یادیږي. دا ځینې وختونه د عمر وړاندیز کولو لپاره کارول کیږي



**ډاکټر مین** د ماشومانو ډاکټر دی.
هغه ماشومان معاینه کوي او چارواکو ته د اړتیا په صورت کې د خپلو موندنو په اړه راپور ورکوي.



ډاکټر سام

ډاکټر مین

# پاولا



**پاولا** یوه چارواکې ده چې د ماشومانو او لویانو سره مرکه کولو کې ځانګړې مهارتونه لري. معمولا هغه د هغو لومړیو خلکو څخه ده چې اروپا ته د رسیدو په وخت کې د پناه غوښتنې غوښتونکو سره خبرې او ملاقات کوي.

# تونې



... او زه تونې یم، یو سرپرست یم او زه به هر هغه څه چې تاسو د عمر ارزونې په اړه پوهیدو ته ورته اړتیا لرئ تشریح کړم.

# جان



**جان** د ماشومانو یو اروپوه دی. هغه اروپا ته د راغلو ځوانانو سره د خبرو او پوښتنو له لارې د عمر ارزونې پروسې کې مرسته کوي. هغه د اړتیا په صورت کې چارواکو ته معلومات ورکوي.

# ټوني - سرپرست

**سرپرست** هغه څوک دی کوم چې د هغو **ماشومانو لپاره ګمارل کیږي** چې اروپا ته پرته له **مور او پلار یا قانوني سرپرست** څخه راځي. په ځینو هیوادونو کې سرپرستانو ته استازي هم ویل کیږي.

**زما په خیر سرپرست دلته د دی لپاره شتون لري ترڅو د ماشومانو ټولو پوښتنو ته ځواب ووایي.** د مثال په توګه، دوی څنګه کولی شي ښوونځي ته لاړ شي، چیرته دوی ژوند کولی شي، یا کله چې دوی ښه احساس نه کوي نو څنګه له ډاکټر سره لیدلی شي. تاسو کولی شئ په دې ټولو موضوعاتو کې د خپل سرپرست څخه د مرستې غوښتنه وکړئ.
اوس به زه دا تشریح کړم چې د عمر ارزونه څه ده او ولې دا مهمه ده.



## په یاد ولرئ

زما په توګه په ماشوم د تاسو
زه. لرئ حق سرپرست د خیر
نظر، د ستاسو سره تاسو
کې ښکاره کولو احساساتو
مرسته کوم، او ډاډ ترلاسه
کوم چې ستاسو خبره اورېدل
کیږي.

# ولې د عمر ارژونه؟

کله چې د پاولا په خیر چارواکې اروپا ته د یو ځوان د راننوتلو په اړه شک ولري او د زیږون نیټې د ثابتولو لپاره اسناد ونلري، دوی کولی شي له تاسو څخه د عمر په ارزونه کې د برخې اخیستو غوښتنه وکړي.



**د عمر ارزونه** یوه داسې لاره ده **چې په تقریبی ډول دا معلوموي چې تاسو څومره عمر لرئ.**

د داسې ارزونې وروسته به تاسو یو سند ولرئ چې په رسمي توګه ستاسو عمر بیانوي. که تاسو د **18 کلونو** څخه **کم** عمر ولرئ، تاسو یو **ماشوم** یاست. **د 18 کلونو څخه ډیر عمر لرونکي** خلک **ځوانان** دي.

# ډاډمن نه یم؟



په رسمي سند کې ستاسو د عمر لیکل خورا مهم دي.

د ماشوم په حیث، تاسو به د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې ځانګړي ملاتړ ترلاسه کړئ. ستاسو عمر به دا وټاکي چې تاسو به چیرته اوسیږئ او له چا سره به ژوند کوئ. دا به له چارواکو سره په دی کی مرسته وکړي چې د دی پریکړه وکړي، د بیلګې په توګه، تاسو باید سرپرست ولرئ که نه، تاسو باید کوم ښوونځي او ټولګي کې شامل شئ او نور.




# رضایت ورکول

چارواکي به معمولا له تاسو څخه پوښتنه وکړي چې تاسو د عمر ارزونې سره موافق یاست. **ستاسو تړون** اکثرا د عمر ارزونې لپاره د **رضایت ورکولو په توګه راجع کیږي**.

**تاسو دا حق لرئ کله چې یو څه روښانه نه وي نو پوښتنې وکړئ.** که چیرې تاسو د چارواکو لخوا په کاریدونکې ژبه باندې نه پوهیږئ نو **تاسو د دې حق لرئ** چې **د ژباړونکي یا ترجمان غوښتنه وکړئ.**

**ژباړونکی یا ترجمان هغه څوک دی چې کولی شي په هغه ژبه خبرې وکړي په کومې چې تاسو پوهیږئ** او د اړتیا په وخت کې به تاسو سره مرسته وکړی چې د چارواکو سره خبرې وکړئ. د دوی **دنده** د هغه څه **ژباړل دي** چې تاسو او چارواکي یې وایي.

کله چې تاسو پر دې پوهیږئ چې د عمر ارزونې پروسې په جریان کې له تاسو څخه د څه تمه کیږي او ولې ستاسو لپاره دا مهمه ده چې پدې کې برخه واخلئ، تاسو کولی شئ په آرامۍ سره خپل رضایت ورکړئ.





# د عمر د ارزونې کړنلاره

دا د ځوان عمر ارزولو لپاره څلور خورا عامې لارې دي.

## 1. د عمر ارزونې مرکه د یو روزل شوي چارواکي سره لکه پاولا

د پاولا په څیر چارواکي به **ټول هغه اسناد وګوري** کوم چې تاسو ورسره شریک کړي دي. د مثال په توګه، هغه اسناد چې تاسو د خپل هیواد څخه راوړي یا هغه کاغذونه چې تاسو د سفر پر مهال ترلاسه کړي. اروپا ته د رسیدو دمخه له تاسو څخه هم ستاسو د ژوند په اړه پوښتنې کیدی شي. د بیلګې په توګه، په دې پوښتنو کې کیدای شي شامل وي، که او چیرې تاسو ښوونځي ته تللي یاست، تاسو څومره ورونه او خویندې لرئ، ستاسو د کورنۍ په اړه پوښتنې.

ستاسو **ریښتینې ځوابونه** به پاولا سره مرسته وکړي ترڅو دا معلومه کړي چې تاسو تقریبا څومره عمر لرئ. له دې وروسته، پاولا به پریکړه وکړي. که چیرې هغه بیا هم شک ولري او هغه ډاډه نه وي چې کوم عمر ولیکي، او د هغه هیواد پورې اړه لري چیرې چې تاسو ځان پکې پیداکړ، هغه به له تاسو څخه د اروپایوه یا متخصص ټولنیز کارکونکي سره د لیدلو غوښتنه وکړي. دوی به بیا تاسو څخه یو څو نور تفصیلي پوښتنې وکړي.



## 2. د ماشومانو  ارواپوه سره لیدنه، لکه جان یا یو ټولنیز کارکونکی

تاسو به د جان په څیر یو کس سره ووینئ، څوک چې د **ماشومانو ارواپوه** دی.
په ځینو هیوادونو کې به تاسو د دې پرځای یو ټولنیز کارمند وګورئ.


د ماشومانو ارواپوهان او **ټولنیز کارکونکي** پوهیږي چې څنګه له ماشومانو سره په نرمۍ خبرې وکړي. دوی به له تاسو څخه ستاسو د ژوند یا ستاسو د کورنۍ په اړه چې د هیواد په دننه کې دي د عمومي شیانو پوښتنه وکړي. دوی ممکن له تاسو وپوښتي چې تاسو څه کول خوښوئ او څه نه خوښوئ. شاید دوی به له تاسو څخه ستاسو د غوره ملګرو په اړه پوښتنه وکړي او تاسو له څومره مودې راهیسې دوی پیژنئ یا له تاسو څخه به دا زده کړې چې د هیواد دننه په  کور کې کومې پیښې رامنځته شوي.

**په یاد ولرئ چې تل پوښتنې وکړئ** کله چې تاسو په یو څه نه پوهیږئ یا تاسو توضیحاتو ته اړتیا لرئ.








kg

## 3. د ماشومانو لپاره د ډاکټر لخوا فزيکي معاينه

په ځينو هيوادونو کې، دوی ممکن تاسو څخه وغواړي چې د ماشومانو ډاکټر سره وګورئ، يو طبي ډاکټر لکه ډاکټر مين ځوک چې د ماشومانو سره په کار کولو کې متخصص دی. دا طبي ليدنه ممکن د ماشوم ارواپوه يا ټولنيز کارمند سره د ناستې ځای ونيسي.

ډاکټران به ستاسو وزن، ستاسو قد، شايد ستاسو غاښونه وګوري او پوښتنه به وکړي چې تاسو عموما څنګه احساس کوئ. تاسو ممکن دمعاينې لپاره خپلې جامې وباسئ. په هرصورت، تاسو بايد هيڅکله په بشپړه توګه جامې ونه باسئ. په ياد ولرئ، که څوک له تاسو څخه د داسې کولو غوښتنه وکړي، تاسو کولی شئ يوازې ورته **نه** وواياست.

په ډيرو هيوادونو کې، تاسو دا اختيار لرئ چې د ښځينه يا نارينه ډاکټر غوښتنه وکړئ، دا پدې پورې اړه لري چې تاسو د چا سره د ډير آرام احساس کوئ او څوک شتون لري.





## 4. د ماشومانو سره په کار کولو کې د روزل شوي راډیولوژیست لخوا یو ایکسرې

د ماشومانو ډاکټران د نورو ډاکټرانو سره نږدې کار کوي، لکه راډیولوژیست لکه ډاکټر سام. رادیولوژی پوهان د یو لوی ماشین پواسطه د هډوکو عکس اخیستلو کې تخصص لري چې د ایکسرې ماشین په نوم یادیږي. د ایکسرې ماشین د یوې لویې کامرې په څیر کار کوي او کولی شي ستاسو د پوستکي له لارې ستاسو د هډوکو عکس واخلي.

اندیښنه مه کوئ، ستاسو د هډوکو **دا ډول عکس اخیستل هیڅ زیان نه رسوي**. په حقیقت کې، تاسو به د هیڅ څه احساس ونه کړئ. په هرصورت، ایکسرې باید ډیری وختونه ترسره نشي، ځکه چې دا شعاع لري.

دا په هغه هیواد پورې اړه لري چیرې چې تاسو یاست، یو ډاکټر کولی شي ستاسو د لاس، ستاسو د کالر هډوکي یا ځینې وختونه ستاسو د غاښونو ایکسرې ترسره کړي. په هغه طریقه چې ستاسو هډوکي سره تړل شوي او هغه طریقه چې دوی په عکس کې ګوري ډاکټران کولی شي ستاسو سره ستاسو د عمر په اټکل کولو کې مرسته وکړي.



# په یاد ولرئ

دا په هغه هیواد پورې اړه لري چیرې چې تاسو  یاست، د عمر ارزونه کیدای شي دا وي:

- **د عمر ارزوني مرکه،**
- **د ماشوم ارواپوه یا ټولنیز کارمند سره مرکه،**
- **د ماشومانو د ډاکټر لخوا فزیکي معاینه ،**
- **یا د رادیولوژیست لخوا د ایکسرې  معاینه.**

ځینې وختونه، د عمر ارزونه د دې مختلف طرزالعملونو یو ترکیب دی.

**که تاسو پوښتنې لرئ،** تاسو باید تل خبرې وکړئ او **پوښتنه وکړئ!** هغه خلک چې د عمر د ارزونې په پروسه کې شامل دي، لکه پاولا، جان، ډاکټر مین یا بل څوک، باید ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایي. که تاسو د دوی په ژبه پوهیدو کې ستونزه لرئ، دوی ته ووایاست. دوی به خپله ټوله هڅه وکړي چې یو څوک ومومي چې ستاسو لپاره په هغه ژبه کې تشریح کړي په کوم کې چې تاسو ورسره آرام یاست.




# د یادښتونو بکس



لاندې هغه پوښتنې چې روښانه کولو ته اړتیا لري ولیکئ کوم چې
ممکن تاسو لاهم د عمر د ارزونې په اړه لرئ



# د عمر د ارزونې پاڼې



**وروسته له دې چې د عمر ارزونې پروسه پای ته ورسیږي**، په ډیرو هیوادونو کې به تاسو ته د ټولنیز کارکونکي لخوا **خبرتیا درکړل** شي او ستاسو د عمر په اړه **لیکل شوی پریکړه لیک به ترلاسه کړئ**. دا لیک مهم دی، نو دا په خوندي ځای کې وساتئ.

که چیرې د پروسې په پای کې چارواکي **لاهم شک ولري** چې ایا تاسو د **۱۸ کالو څخه کم** یاست یا د **۱۸ کالو څخه پورته** عمر لرئ، دوی باید د **ځوانی عمر** غوره کړي..

دې ته د شک ګټه ویل کیږي!

# تاسو څه کولی شئ که چیري تاسو د پریکړې سره موافق نه یاست؟

ځینې وختونه د عمر ارزونې پایلې ممکن تاسو لږ څه زاړه یا یو څه ځوان وښایي په نسبت ددی چې تاسو واقعا یاست.



که تاسو د خپل عمر په اړه **د پریکړې سره موافق نه یاست،** نو د خپل سرپرست یا یو چارواکي خبرې وکړئ چیرې چې تاسو ژوند کوئ، د بیلګې په توګه یو قانوني چارواکي ، د استوګنې چارواکي یا ټولنیز کارمند. دوی به تاسو سره د درخواست په نوم یو سند چمتو کولو کې مرسته وکړي.

**د درخواست ډکول** پدې معنی دي چې د **عمر ارزونې پریکړې سره سیالي یا ننګونه وکړي**. په ډیرو هیوادونو کې، تاسو باید د عمر ارزونې رسمي پریکړه لیک ترلاسه کولو وروسته په څو ورځو کې دا کار وکړئ. داډ ترلاسه کړئ چې تاسو **ډیر اوږد انتظار مه کوئ** او سمدلاسه د پریکړې سمولو لپاره مرستې ته ورشئ!


عمر 19؟


# د ماشوم غوره ګټه

چارواکي باید ډاډ ترلاسه کړي چې د دوی لخوا ټولې پریکړې د **ماشوم په ګټه دي.**

**د ماشوم د غوره ګټو په پام کې نیولو سره** یوازې دا هغه وخت مهم نه دی چې د عمر خبره وي، بلکې د دې پریکړه هم کوي چې ماشوم چیرته ژوند وکړي او له چا سره، کوم ښوونځي ته لاړ شي، او نور ډیر څه.

زما په څیر د سرپرست شتون ددی لپاره چې د چارواکو سره ددی مرسته وکړي ترڅو هغه څه **په پام کې ونیسي کوم چې ستاسو لپاره غوره دی.**





# په یاد ولرئ

- تاسو به د خپل عمر په اړه د پریکړې یو رسمي لیک ترلاسه کړئ.
- تاسو کولی شئ اپیل وکړئ که تاسو فکر کوئ چې ستاسو عمر په غلط ډول ارزول شوی!
- تاسو باید د پریکړې لیک ترلاسه کولو وروسته سمدلاسه اپیل درج کړئ
- تل پوښتنې وکړئ کله چې یو څه ناڅرګند وي.



# وروستنۍ تبصرې

**په یاد ولرئ، ستاسو د زیږون نېټې د رسمي سند درلودل** ستاسو لپاره د ډېرو دلایلو لپاره مهم دي. دا به تاسو سره مرسته وکړي چې ښوونځي ته لاړ شئ، د بیلګې په توګه، او د ورته عمر نورو ځوانانو سره ژوند وکړئ.

که تاسو اروپا ته له اسنادو پرته چې ستاسو عمر ثابت کړي راغلی یاست، د عمر د ارزونې کړنلاره کې برخه اخیستل ستاسو سره مرسته کولی شي.

په یاد ولرئ، تاسو په دې پروسه کې یوازې نه یاست. هغه چاروکې چیرته چې تاسو اوسیږئ هلته ستاسو سره د مرستې لپاره کار کوي.

تل د مرستې غوښتنه وکړئ کله چې تاسو مرستې ته اړتیا لرئ او کله چې یو څه تاسو ته روښانه نه وي!







په پای کې، دا هم په پام کې ونیسئ چې په اروپا کې د ماشومانو سره د
تاوتریخوالی او زیان څخه د **ساتنې لپاره قوانین او اصول شتون لري.**

ټول اروپايي هیوادونه د ماشوم د حقونو د قرارداد برخه ده، چې
ډیری وختونه د CRC په نوم یادیږي. CRC یو سند دی چې د
ماشومانو حقونه توضیح کوي او هغه څه چې د حکومتونو لخوا
باید ترسره شي ترڅو ماشومان خوندي وي، محفوظ وساتل شي
او په ټولیز ډول ښه ژوند وکړي.

CRC نه یوازې د هغه هیواد د ماشومانو اتباعو باندې تطبیق
کیږي چې تاسو پکې ځان مومئ، بلکې د ټولو ماشومانو په
ګډون چې اروپا ته راځي.

که تاسو اوس غواړئ خپل ځان و ازموئ او وګورئ چې تاسو
د عمر ارزوني کړنلاره څومره په یاد لرئ، په راتلونکې پاڼه کې
لنډو پوښتنې ته دوام ورکړئ. ساعت مو تیر کړئ!



# د عمر د ارزونې ازموینه



**س۱ :** تاسو  د عمر د ارزونې پروسې په جریان کې د ماشومانو کوم حقونه په یاد لرئ؟ هغه یو ذکر کړئ چې تاسو یې په یاد لرئ.

**س۲ :**ایا تاسو په یاد لرئ چې په اروپایی هیوادونو کې عمر  په کومو مختلفو لارو ارزول کیږي؟

**س۳ :**یو سرپرست څنګه ستاسو سره مرسته کولی شي؟

**س۴ :**ايا دا ممکنه ده چې چارواکې يا ډاکټران د عمر په اړه موافق نشي يا عمر غلط وليکي؟ که هو، تاسو څه کولی شئ؟

**س۵:**ايا تاسو په ياد لرئ چې د "ماشوم غوره ګټي" څه معنی لري؟

ډير ښه، تاسو ټولو پوښتنو ته ځوابونه وويل!

ځوابونه په راتلونکي پاڼه کې ومومئ.

# د ازمويڼې ځوابونه

## ۱ پوښتنې ته ځوابونه

- د اوريدلو حق
- د زيږون د نيتې حق (د نورو کړنلارو لپاره مهم)
- د خونديتوب حق
- د ماشومتوب په وخت کې د اضافي ملاتړ حق (د مثال په توګه د خوب لپاره خوندي ځای/تعليم)
- د خبرتيا حق
- د پوښتنو کولو حق
- د نه ويلو حق (کله چې د طبي معاينې پرمهال په بشپړ ډول د جامو د ويستلو غوښتنه وشي)
- د سرپرست د ملاتړ حق
- د ازمويڼې لپاره د ډاکټر جنسيت غوره کولو حق
- د پريکړې د استيناف حق

### ۲ پوښتني ته ځوابونه

- د یو چارواکي سره لومړنی مرکه
- د اروا‌پوه یا ټولنیز کارکونکي لخوا رواني ارزونه
- د ډاکټر لخوا طبي معاینه (د بیلګې په توګه د غاښونو، وزن او قد معاینه کول)
- د اړتیا په صورت کې ایکسرې

### ۳ پوښتني ته ځوابونه

- د کړنلارې په جریان کې د ملاتړ او مرستې لپاره د سرپرست شتونوالی.
- د پوښتني کولو لپاره او په داسی ژبه کې تشریح کولو لپاره ژباړونکی ولري

چې ته پری پوهیږی

- دا غوره کول چې ډاکټر ښځینه یا نارینه وي

### ۴ پوښتنې ته ځوابونه

- کله چې عمر روښانه نه وي چارواکي باید د ځواني عمر غوره کړي (د شک ګټه)
- تاسو د عمر د ارزونې پایلې ته د درخواست کولو حق لرئ

### ۵ پوښتنې ته ځوابونه

- د پروسې په جریان کې ټولې مرحلې باید زما د غوره ګټو تضمین کولو لپاره ترسره شي، پدې معنی چې چارواکي باید تل زما غوره ګټې په پام کې ونیسي. دا پدې مانا ده چې عملونه باید زما لپاره ګټور وي. په هرصورت، زه پوهیږم چې دا پدې معنی ندي چې چارواکي کولی شي زما ټولې هیلې پوره کړي.



**د ټولو ماشومانو او ځوانانو څخه ډېره مننه** چې د ماشومانو لپاره یې د عمر د ارزونې حرکې ویډیو په اړه خپل نظر وړاندې کړل. دا کتابچه ستاسو له وړاندیز څخه سرچینه اخلي چې یو لاسي پاڼې ولري ترڅو نور ملاتړ ترلاسه کړي او ځوان غوښتونکو ته خبر ورکړي چې د عمر ارزونه څه ده او څنګه په مؤثره توګه پدې پروسه کې برخه واخلي.





Publications Office
of the European Union